نثار احمد صمد واصفی ۲۰۱۶/۰۹/۱۱

# د سپتمبر د یوولسمی حقیقت

لیکوال: اریک مارګولیس منبع : لیوراک ویل (امریکا)

ژباړن : نثار احمد صمد واصفی

د سپتمبر د یوولسمی د حملي په هکله درواغ لا تر اوسه هم هغومره ډیر دي. ما د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر پر دوهمه (یعنی پر نیویارک او واشنګټن باندی د سپتمبر د یوولسمی تر حملي نهه ورځی مخکی) داسی لیکلي وو: «په منځني ختيځ او اسلامي نړی کی د امریکا ستراتیژیکی او اقتصادي ګټی د فلسطین د غمیزی په واسطه، چی پر امریکایانو او امریکایی ګټو باندی خامخا تروریستان حملي ته لمسوي، تهدیدیږی».

امریکایان، په داسی حال کی چی پر خپل هیواد باندی د سپتمبر د یوولسمی د حملي پنځلسم کال ته ننوزي، لا تر اوسه هم د دي وحشیانه حملي په علت نه دي پو هیدلي.

دوی ځوک ملامتولای سی؟ زموږ سیاست وال او خبروني د دغو او مابعده حملو په باره کی چی موږ یې «تروریزم» بولو، اصلی حقیقت باالکل مبهم کوی. حال دا چی موږ د سپتمبر د یوولسمی او هم پر یو څه پاته افغانستان باندی د امریکایی «بي ۵۲» الوتکو د درنو بمونو د باران د قربانیانو سره هم خپله غمرازي څرګندوو. دوی غواړي چی په یو عبث کوښش سره د لویدیځوالو د اشغال پر خلاف جنګیدونکي قبايلي ځواکونه (چی هماغه طالبان دي) وځپي.

موږ کټ مټ کار په ۱۹۸۰ لسیزه کی په لاوس کی هم کړی و، چی ولسمشر بارک اوباما تیره هفته همالته د خپلی کتنی پر مهال ښه ترا څرګند کړ. لاوس لا تر اوسه هم نه دی روغ او جوړ سوی، افغانستان به هم بیخی تري روغ نسي.

امریکا د ۲۰۱۵ راهیسی پر عراق، سوریه، لیبیا، یمن، سومالیا، پاکستان او افغانستان باندی چی ټول اسلامي هیوادونه دي، لږ تر لږه دوه دیرش زره ۱۰۰۰ ـ ۲۰۰۰ پاویزه درانه بمونه راغورځولي دي. د امریکا د بمونو ډیپوګان هیڅ ډکیدو ته نه پاتیږی او ځکه نو د وسلو جوړونکي تر وخت اضافه کار کوی.

د سپتمبر د یوولسمی حمله یوه انتقامي حمله وه چی ډیری کړوني یې سعودي اتباع وو چی دا ادعا یې کول چی دوی غواړی پر فلسطین باندی د اسراییلو د ظلمونو څخه د دفاع او هم غواړی چی د سعودي عربستان د اشغال په بدل کی امریکا ته سزا ورکړی.

دا هغه څه دي چی موږ حقیقتاً پري پوهیږو. موږ ته تر ننه هم د سپتمبر د یوولسمی د حملي بشپړ حقیقت نه دی ویل سوی. خو تر ټولو ښه کار چی باید ویې کړو دا سوال دی چی د دي حملي څخه اصلی ګټه چا وکړه؟

د سپتمبر د یوولسمی روایت بیله ځنډه په یوه داسی کاذبه ادعا کی وپېچل سو چی ویل یې امریکا د خپلو «ازادیو»



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

او «ژوندانه د طریقي» له امله د مسلمانانو تر حملې لاندې راغله. دغه منافقت هغه شیطاني قطبي خلاصه کړه چې له دننه یې په امریکا او اروپا کې د اسلام دښمنۍ او صلیبي تبې خپې خپرې سوې.

امریکا د دې له پاره نه لکه څرنګه چې ده، بلکې په اسلامي نړۍ کې د خپلو اعمالو په بدله کې د حملې سره مخامخ سوه. اکثریت امریکایان نه پوهیږي چې په منځني ختیځ کې د سي. آی. ای له خوا د «رژیم بدلول» آن په ۱۹۴۸ کې لا په سوریه کې راپیل کړه سوی و. موږ تر ننه لا په همدې کار کې بوخت یو. له هماغه راهیسې درو استعماري ټوپک سالارانو یعنې امریکا، انګلستان او فرانسې په ټول منځني ختیځ او افریقا کې رژیمونه مات کړي او جوړ کړي دي او داسې ظالم دیکتاتوران یې نصب کړي دي چې زموږ اطاعت کوي او په دې ډول د لویدیځې افریقا څخه تر تاجکستان پورې یې موږ ته دښمنان تولید کړي دي.

هیلري کلنټن په همدې اوونۍ کې وویل چې که زه د ولسمشرۍ په حیث کامیابه سم نو «د امریکا معاف والی» به پر مخ یوسم او هم به نوی نړیوال نظم رامنځته کړم. دا د استعمار او تسلط شفري اصطلاحات دي. که یې همدا کلنټن وګټي نو د هغه بهرنۍ او پوځي مخکښه تګلاره به وګورو چې د ګولډن سېچز» کمپنۍ او نوو محافظه کارانو له خوا به اداره کیږي.

ډونالډ ټرمپ بیا په یو داسې وخت کې د پوځي بودجې د ډېرولو عهد کړی دی چې د امریکا اډانه زنګ وهلې یا نړېدونکې ده او پوروونه یې تر آسمانه رسیږي. ټرمپ او کلنټن دواړه امریکا ته د داعش او شمالي کوریا لخوا د امنیتي ډېرېدونکو تهدیدونو خبرداری ورکوي. خو په حقیقت کې تر ټولو ستر داخلي تهدید هماغه په شیکاګو کې د شنبې د شپې د باندونو ډزې (ټکان) دي چې یوازې همدا سږ کال پنځه سوه کسان پکښې وژل سوي دي.

داعش خو پوځي ډوله رذیلان دي چې د شل ـ شل کسیزه بدمعاشانو په حیث ګرځي. حال دا چې شمالي کوریا غواړي چې خپلو بدمرغیو ته پر ارامه پرېښودل سي. نو واشنګټن، پاریس او لندن نن شیطان صفته داعش ته اړتیا لري عیناً لکه القاعده او شوروي اتحاد ته چې یې پخوا درلوده څو په دې ډول د بودجه خوړونکو وسلو د مصرفولو او هم د چټې جنګي تبې پواسطه نفوس جارو کړي.

د بین المللي پلوه د امریکا امنیت ته تر ټولو ستر تهدید بېله شکه په اتومي وسلو سمباله روسیه ده چې زیات قاره ویشتونکي او د سمندر څخه ګوزار کونکي توغندي لري چې کولای سي امریکا د نقشې څخه ورکه کړي.

له همدې سببه د امریکا د بهرني او ملي امنیت تر ټولو غټ لومړیتوب دا دی چې سره سینه ولري، د روسیې او د هغه هیواد د مشرانو سره مؤدبانه اړیکې ولري.

خو برعکس، پر ځای یې موږ هیلري کلنټن او عصباني جنګي نوي محافظه کاران لرو چې لګیا دي له هره پلوه روسیه لمسوي او ماسکو ته داسې احساس ورکوي چې ښایي امریکا د روسیې سره جګړه غواړي. دا بالکل هماغه په ۱۹۸۳ کې د «ایبل آرچر» د بحران غوندې دی چې هلته امریکا او شوروي اتحاد یو بل ته داسې مخامخ درېدلي وو چې په صرف څو دقیقو کې یې تر منځ یو بشپړ اتومي جنګ پیښېدای سو.

نو د ټرمپ او د دې توندې خپې او اسلام دښمنۍ له مخې، دئ بشپړ حق لري چې د ماسکو سره ښې اړیکې ولټوي. د کلټن د ډلې او د هغې د اهلي امریکایي خپرونو په واسطه د روسیې د ولسمشر ولادیمیر پوتین داسې څېل لکه په مکتب کې چې یو هلک وهي، د ستر ځواک له پاره طفلانه، شرمناک او نالایقه عمل دی.

پای